# فاطر

**مکی سورة دی ۴۵ آیتونه لری**
**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ جَاعِلِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا أُوْلِيٓ أَجۡنِحَةٖ
مَّثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۚ يَزِيدُ فِي ٱلۡخَلۡقِ مَا يَشَآءُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١

**تولې ستاينې او غوره صفات، د الله تعالی ذات ته ځانګړی دی چې د آسمانونو او ځمکې خالق او مؤجد دی( یعنی کائنات یې بې له کومې پخوانې نمونې اختراع کړی دی) او داسې پرښتې یې پیدا کړی چې دوه دوه، درې درې او څلور څلور وزرې لری( کیفیت یې یوازې الله تعالی ته معلوم دی، او وظائف یې انبیاو ته د الهی پیغامونو رسول او الهی احکامو تطبیق او انفاذ دی). څه چې وغواړی په خلقت کې یې زیاتوی، بې له شکه چې الله تعالی پخپله په هر کار پوره برلاسی دی( خو صرف د مصلحت لپاره یې د دغو اسبابو او وسایطو د استعمال نظام قایم کړی دی).**

مَّا يَفۡتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحۡمَةٖ فَلَا مُمۡسِكَ لَهَاۖ وَمَا يُمۡسِكۡ فَلَا مُرۡسِلَ لَهُۥ
مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٢

**په چا چې الله تعالی د رحمت لورینه وکړی، مخه یې هیڅوک نشی نیولی، او له چا چې خپل رحمت سلب کړی هیڅوک یې بیرته نشی ورکولی او الله تعالی( پخپلو تولو اقداماتو) پیاوړی او حکیم ذات دی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡۚ هَلۡ مِنۡ خَٰلِقٍ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَرۡزُقُكُم
مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ٣

**ای انسانی پرګنو! د الله تعالی هغه نعمتونه چې په تاسو یې لورولی یاد ساتئ، آیا له الله تعالی نه غیر بل داسې خالق شته چه له آسمان او ځمکې نه تاسو ته روزی درکړی ؟ له هغه نه غیر، بل خدای نشته، نو بیا ولې( له حق نه) مخ اړوئ.**

وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدۡ كُذِّبَتۡ رُسُلٞ مِّن قَبۡلِكَۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ٤

**( ای پیغمبره! که کافران د دلایلو له اوریدو او اتمام حجت نه وروسته بیاهم) ستا دعوت ته د درواغو نسبت کوی، ته وربانډې مه غمجن کیږه( ځکه دا کومه نوې خبره نه ده) ستا نه وړاندینی پیغمبران هم تکذیب شوی(**

نو ته هم د هغوی په شان د صبر او ثبات لمن ټینګه ونیسه) بیشکه چې ټولې چارې بالاخره الله تعالی ته محول کیږی( او د حق سرسخت دښمنان به د قیامت په ورځ د خپل لجاجت پوره سزا ووینی).

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَا يَغُرَّنَّكُم
بِٱللَّهِ ٱلۡغَرُورُ ٥

ای انسانی پرګنو! بیشکه چې( د قیامت او حساب کتاب په باب) د الله تعالی وعده حقه ده نو پام چې نه د دنیا د فانی ژوند په( ځلا او ښکلا) تیروځی، او نه د الله تعالی ( د رحم او مغفرت په نوم) د شیطان په غوږو وعدو مغرور شی.

إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ لَكُمۡ عَدُوّٞ فَٱتَّخِذُوهُ عَدُوًّاۚ إِنَّمَا يَدۡعُواْ حِزۡبَهُۥ لِيَكُونُواْ مِنۡ
أَصۡحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ٦

یقیناً چې شیطان ستاسو سرسخت دښمن دی، نو تاسو یې هم خپل دښمن وګڼی، هغه خپل پیروان( فساد او ګناه ته په هڅولو سره) دوزخ ته ورتیل وهی.

ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم
مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٞ كَبِيرٌ ٧

کافران په سخت عذاب محکوم دی او د ایمان او نیکو کړو خاوندان به په مغفرت او لوی اجر سرلوړی کړی شی.

أَفَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ فَرَءَاهُ حَسَنٗاۖ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ
وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۖ فَلَا تَذۡهَبۡ نَفۡسُكَ عَلَيۡهِمۡ حَسَرَٰتٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِمَا
يَصۡنَعُونَ ٨

نو آیا هغه څوک چې ناوړه اعمال یې ورته ښه ښکاره شوی، او معقول یې ګڼی( د هغه چا په شان دی چې د ایمان په رڼا کې یې ښه او بد پیژندلی او تشخیص کړی دی؟ لکه څنګه چې دوی دواړه برابر نه دی نو د دواړو خاتمه هم برابره نه ده). یقینی خبره دا ده چا ته چې الله تعالی اراده وکړی( د حق په مقابل کې د تکبر له امله

يې) گمراه کوی او چاته چې یې اراده وشی د هدایت په مستقیمه لاره یې روانوی، نو( ای پیغمبره!) د گمراهانو په حال مه خفه کیږه او خپل زړه مه خوره، بیشکه چې الله تعالی د هغوی په ټولو کړنو ډیر ښه خبر دی.

وَٱللَّهُ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَسُقْنَٰهُ إِلَىٰ بَلَدٍ مَّيِّتٍ فَأَحْيَيْنَا بِهِ
ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ كَذَٰلِكَ ٱلنُّشُورُ ﴿٩﴾

همدا د الله تعالی ذات دی چې د وریځو د راپورته کولو لپاره بادونه استوی او بیا یې وچې او مړې ځمکې ته لیږو، او ځمکې ته له مرگونی وچکالی نه وروسته نوی ژوند وربښو، په همدې توگه مړه انسانان هم راژوندی کوو.

مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلْعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ جَمِيعًا ۚ إِلَيْهِ يَصْعَدُ ٱلْكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ
وَٱلْعَمَلُ ٱلصَّٰلِحُ يَرْفَعُهُۥ ۚ وَٱلَّذِينَ يَمْكُرُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ لَهُمْ عَذَابٌ
شَدِيدٌ ۖ وَمَكْرُ أُو۟لَٰٓئِكَ هُوَ يَبُورُ ﴿١٠﴾

څوک چې عزت غواړی( نو باید له الله تعالی نه یې وغواړی ځکه) عزت له هغه سره دی. پاکه خبره( سپیڅلې عقیده) د هغه حضور ته پورته کیږی او نیک اعمال یې لوړو مدارجو ته رسوی، او د ناوړه حیلو او دسیسو جوړوونکی د سخت عذاب وړ دی او ټولې دسیسې به یې ناکامې وی.

وَٱللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَٰجًا ۚ وَمَا تَحْمِلُ
مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِۦ ۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ وَلَا يُنقَصُ مِنْ
عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١١﴾

او الله تعالی تاسو له( مړې) خاورې او بیا له نطفې پیدا کړئ او بیا یې( د نر او ښځې) په جوړو بدل کړئ. هره ښځه چې حامله کیږی او ماشوم زیږوی الله تعالی یې (په دغو ټولو تدریجی مراحلو او څرنگوالی خبر دی) او نه د چا عمر زیاتیږی او نه لنډیږی مگر دا چې ټول( د لوح محفوظ) په کتاب کې ثبت دی. بیشکه چې دا ټولې چارې الله تعالی ته آسانې دی.

وَمَا يَسْتَوِي الْبَحْرَانِ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَائِغٌ شَرَابُهُ وَهَٰذَا مِلْحٌ
أُجَاجٌ ۖ وَمِن كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُونَ حِلْيَةً
تَلْبَسُونَهَا ۖ وَتَرَى الْفُلْكَ فِيهِ مَوَاخِرَ لِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ
تَشْكُرُونَ ﴿١٢﴾

**دوه سیندونه یو شان نه دی، دا یو خوږ تنده ماتوونکی او خوندور، او هغه بل مالګین تریو دی، خو له دواړو نه( د کبانو) تازه غوښې ترلاسه کوئ او( له ترخه سینده د خپلو ښځمنو لپاره) د سینګارولو ګاڼه او زیورات( مرغلرې او جواهرات) راوباسئ، او په بحر کې تلونکې کښتۍ( او بحری جهازونه) وینې چې د اوبو سینه څیروی تر څو تاسو( ټاکلو منازلو او مقاصدو ته) په رسیدو د الله تعالی فضل( اقتصادی ګټې) ترلاسه او شکر یې په ځای کړئ.**

يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ
وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ
الْمُلْكُ ۚ وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِ مَا يَمْلِكُونَ مِن
قِطْمِيرٍ ﴿١٣﴾

**شپه په ورځ او ورځ په شپه پوښوی، او لمر او سپوږمۍ یې تابع او مسخر کړی چې تر یوه ټاکلی وخته په حرکت کې دی. دا دی ستاسو رب، الله تعالی. واقعی سلطنت او ټولواکی یوازې د هغه لپاره ځانګړې ده، او هغه باطل خدایان چې تاسو( کافران) یې د الله تعالی په مقابل کې عبادت کوئ، د خرما د زړی د نری پوستکی هومره واک اختیار هم( د کائناتو په چارو کې) نه لری.**

إِن تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا دُعَاءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ ۖ وَيَوْمَ
الْقِيَامَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُمْ ۚ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ ﴿١٤﴾

که( دغو بتانو ته) دعا وکړی، دعا مو نه اوری او که (فرضاً) يې واوری هم، خو غوښتنې مو نشی پوره کولی، او د قيامت په ورځ به هم ستاسو له شرک نه منکر شی، او هيڅوک، تا د خبير خدای په شان( له حقايقو نه) خبرولی نشی.

۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ١٥

ای انسانی پرګنو! تاسو الله تعالی ته اړ یاست، او الله تعالی له هر چا بې نیازه او پخپله ستایل شوی ذات دی.

إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَأۡتِ بِخَلۡقٖ جَدِيدٖ ١٦

که اراده وکړی تاسو به( د هستئ له صفحې) لیرې، او نوی مخلوق به ورته راوړاندې کړی.

وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٖ ١٧

او دغه کار، الله تعالی ته هیڅ سختی نه لری.

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۚ وَإِن تَدۡعُ مُثۡقَلَةٌ إِلَىٰ حِمۡلِهَا لَا يُحۡمَلۡ مِنۡهُ
شَيۡءٞ وَلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبَىٰٓۗ إِنَّمَا تُنذِرُ ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُم بِٱلۡغَيۡبِ
وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَۚ وَمَن تَزَكَّىٰ فَإِنَّمَا يَتَزَكَّىٰ لِنَفۡسِهِۦۚ وَإِلَى ٱللَّهِ
ٱلۡمَصِيرُ ١٨

او هيڅ ګناهګار به د بل چا د ګناه بار په اوږو وانخلی، او که د ګناه بار وړونکی خپل خپلوان( يا نږدې ملګری) ته عذرونه او زاری هم وکړی چې د ګناه يو څه پيټی ترې پخپلو اوږو واخلی، هيڅوک به يې بلنه ونه منی( او نه به يې د قرابت او ملګرتيا خيال وساتی).( ای پيغمبره!) ته يوازې هغه کسان تنبيه کولی شی، چې په غائبانه توګه د خپل رب( له عذابه ويريږی) او لمونځونه اداء کوی. او څوک چې( له ګناه څخه) پاک شی پاکی يې پخپله ګټه ده، او يقيناً چې د ورتګ وروستئ مرجع د الله تعالی حضور دی.

وَمَا يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُ ١٩

نه ړوند او بينا( کافر او مؤمن) سره يو شان دی.

وَلَا ٱلظُّلُمَٰتُ وَلَا ٱلنُّورُ ٢٠

**او نه(د کفر) تیاره او(د حق اسلام) رڼا.**

وَلَا ٱلظِّلُّ وَلَا ٱلْحَرُورُ ﴿٢١﴾

**او نه( د جنت) سیوری او ( د جهنم سوزوونکی) تودوخه سره برابرېږی.**

وَمَا يَسْتَوِى ٱلْأَحْيَآءُ وَلَا ٱلْأَمْوَٰتُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُسْمِعُ مَن يَشَآءُ ۖ وَمَآ أَنتَ بِمُسْمِعٍ

مَّن فِى ٱلْقُبُورِ ﴿٢٢﴾

**او نه مړی او ژوندی سره یو شان دی، بیشکه چې الله تعالی هر چاته چې وغواړی( د حق دعوت د اورولو او منلو احساس او توفیق ورکوی) او ته نشې کولی( د حق دعوت) په قبرونو کې په پرتو مړو ومنې.**

إِنْ أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ ﴿٢٣﴾

**ته صرف( خلکو ته د راتلونکی حساب کتاب لپاره) اخطار ورکوونکی (او متوجه کوونکی) یې.**

إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا ۚ وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا

نَذِيرٌ ﴿٢٤﴾

**بیشکه چې  ته مو په حقه( مؤمنانو ته د اخروی اجر او جنت) د زیری ورکوونکی او (کافرانو او منکرانو ته د شدید عذاب )  د اخطار ورکوونکی په حیث استولی یې، او هیڅ داسې امت نشته چې اخطار ورکوونکی او تنبیه کوونکی( پیغمبران) مو ورته نه وی ورلیږلی.**

وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم

بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَبِٱلزُّبُرِ وَبِٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُنِيرِ ﴿٢٥﴾

**که تا( او ستا دعوت ) ته د درواغو نسبت کیږی( وربانده مه خواشینی کیږه) له دوی نه وړاندنیو( کافرانو هم پیغمبران) دروغ ګڼلی وو، په داسې حال کې چې پیغمبرانو ورته څرګندې معجزې( او له پند، نصیحت او احکامو او قوانینو نه ډک) روښانه کتاب هم وروړی و.**

ثُمَّ أَخَذْتُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٢٦﴾

**وروسته مو کافران( د کفر او عناد له امله په سخت عذاب) ونیول، نو وګوره چې (زمونږ له قدرت او ربوبیت نه) د انکار سزا څنګه وه؟**

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ ثَمَرَٰتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهَا ۚ

وَمِنَ ٱلْجِبَالِ جُدَدٌۢ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهَا وَغَرَابِيبُ

سُودٌ ﴿٢٧﴾

**آیا نه ګورې چې الله تعالی له آسمانه اوبه نازلې کړې، او په هغو یې ډول ډول میوې رازرغونې کړې( له یوې ځمکې، له یو ډول اوبو او له یوې هوا څخه د مختلفو اشیاو او انواعو پیدا کول د الله تعالی د کامل قدرت لوی دلیل دی) او په ځینو غرونو کې بیلابیل ډوله( معدنی) لارې دی: سپینې، سرې او تکې تورې.( سپین کانونه هم بیلابیل ډولونه دی، تک سپین لکه د مرمر ډبره، بل سپین لکه مالګه، او دغسې سرې او تورې غرنی کرښې هم په څو څو ډوله دی، تک تور لکه رانجه او د ډبرو سکاره. او په ځینو غرونو کې رنګارنګ رګونه او لارې هم شته).**

وَمِنَ ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلْأَنْعَٰمِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ كَذَٰلِكَ ۗ

إِنَّمَا يَخْشَى ٱللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ ٱلْعُلَمَٰٓؤُا۟ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ ﴿٢٨﴾

**او همدا راز انسانان، خوزندګان او څاروی هم( د نباتاتو، جماداتو او حیواناتو په شان) بیلابیل شکلونه او رنګونه لری. حقیقت دا دی چې د الله تعالی په بندګانو کې یوازې پوهان له هغه نه ویریږی( هغه پوهان چې د الله تعالی د عظمت او جلال، د آخرت د بقا او دوام ، د دنیا د فنا او اتمام او د الهی احکامو او هدایاتو پوهه او عقیده ورسره وی) بیشکه چې الله تعالی په ټولو چارو برلاسی او غالب ذات دی( او کولی شی چې په هره خطا یو څوک ونیسی) او ښښونکی ذات دی( چې هره ګناه یې ورته ببنلی شی).**

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُوا۟ مِمَّا

رَزَقْنَٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَٰرَةً لَّن تَبُورَ ﴿٢٩﴾

**هغه کسان چې تل د کتاب الله تلاوت کوی،( له آدابو او ارکانو سره سم) لمونځونه کوی، او زمونږ له ورکړی شوې روزی نه په پټه او ښکاره نفقې او خیراتونه کوی، د داسې تجارت هیله من دی چې هیڅکله به له کساد او تاوان سره مخامخ نشی.**

لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٣٠﴾

**( د دوی د دغو نیکو چارو هدف دا دی) تر څو ورته الله تعالی پوره اجر او ثواب ورکړی او خپل فضل وربانديٖ زیات کړی، بیشکه چې الله تعالی ښونکی او شکر منونکی ذات دی( ډیر ګناهونه ښنی او د ډیر لږ طاعت او عبادت قدر هم ورسره دی چې له مقرراتو او قاعدې څخه زیات ثواب او اجر ورکوی).**

وَٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ هُوَ ٱلْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِعِبَادِهِۦ لَخَبِيرٌۢ بَصِيرٌ ﴿٣١﴾

**او هغه کتاب( قرآن) چې مونږ تاته د وحي په ذریعه درکړی، کاملاً حق او د پخوانیو (کتابونو) تصدیق کوونکی دی، بیشکه چې الله تعالی د خپلو بندګانو( په ټولو چارو) پوره خبر او څارونکی دی.**

ثُمَّ أَوْرَثْنَا ٱلْكِتَٰبَ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۖ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِۦ وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌۢ بِٱلْخَيْرَٰتِ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْكَبِيرُ ﴿٣٢﴾

**( له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه) وروسته، مونږ دا کتاب( قرآن) خپلو غوره کړی شویو بندګانو( محمدی امت ته د غوره او افضل امت په حیث) په میراث سپارو.( هو- د امت افراد یو شان نه دی، ځینې د قرآن په ټولو احکامو د عمل نه کولو له امله« ظالم لنفسه») په ځان ظلم کوونکی دی، ځینې منځلارې« مقتصدین» دی( صالحات او سیئات یې سره یو شان دی) او ځینې« سابق بالخیرات» دی چې د الله تعالی په اراده( په محاسنو او فضایلو کې) له ټولو وړاندې دی.**

جَنَّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ۖ وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٣٣﴾

**( د دغو دریوارو ډلو اجر) هغه تلپاتې جنتونه دی چې دوی به ورته له ورننوتلو سره سم د سرو زرو او مرغلرو په وښیو سینګار او په وریښمینو کالیو ملبس وی.**

وَقَالُوا۟ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِىٓ أَذْهَبَ عَنَّا ٱلْحَزَنَ ۖ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٌ
شَكُورٌ ﴿٣٤﴾

**او وايى به: د ډيرې ستاينې وړ دی الله تعالى چې مونږ يې له غمونو او انديښنو بې غمه کړو، بيشکه چې زمونږ رب ډير ښونکی( او زمونږ د لږ او ناچيز عبادت په مقابل کې لوی اجر ورکونکی او) شکر منونکی ذات دی.**

ٱلَّذِىٓ أَحَلَّنَا دَارَ ٱلْمُقَامَةِ مِن فَضْلِهِۦ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ وَلَا يَمَسُّنَا
فِيهَا لُغُوبٌ ﴿٣٥﴾

**هغه ذات چې مونږ يې د خپل فضل په دې (تلپاتې لوړ) مقام کې هستوګن کړو چې نه پکی کومه ستونزه او تکليف شته او نه پکې کوم غم او ستړيا.**

وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ لَا يُقْضَىٰ عَلَيْهِمْ فَيَمُوتُوا۟ وَلَا
يُخَفَّفُ عَنْهُم مِّنْ عَذَابِهَا ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى كُلَّ كَفُورٍ ﴿٣٦﴾

**او د کافرانو لپاره د دوزخ اور دی، نه به يې د مرګ فرمان صادريږی چې مړه شی او نه به يې په عذاب کې کمښت راځی او همدا ده هر(کافر) ناشکره ته زمونږ سزا.**

وَهُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَٰلِحًا غَيْرَ ٱلَّذِى
كُنَّا نَعْمَلُ ۚ أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُم مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ
ٱلنَّذِيرُ ۖ فَذُوقُوا۟ فَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴿٣٧﴾

**دوی به هلته چيغې سورې وهی چې: ای ربه مونږ ته نجات راکړه چې د پخوانيو اعمالو په ځای نيک عملونه وکړو،( په ځواب کې به ورته وويل شی) آيا دومره اوږد ژوند مو نه و درکړی چې د نيکو اعمالو او پند اخستلو لپاره بيخی پوره و؟ آيا اخطار درکوونکی( پيغمبر) نه و درغلی؟( او چې دغه ټول حجتونه درباندې تمام شوی) نو اوس ( له عذابه) خوند واخلی او ( پوه شی چې) د ظالمانو لپاره هيڅ مرستندوی نشته.**

إِنَّ ٱللَّهَ عَٰلِمُ غَيۡبِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ
ٱلصُّدُورِ ٣٨

بیشکه چې الله تعالی د آسمانونو او ځمکې په ټولو اسرارو پوه دی او بیشکه چې په سینو کې پټ اسرار او نیتونه هم ورته ښه معلوم دی.

هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَكُمۡ خَلَٰٓئِفَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ فَمَن كَفَرَ فَعَلَيۡهِ كُفۡرُهُۥۖ وَلَا يَزِيدُ
ٱلۡكَٰفِرِينَ كُفۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ إِلَّا مَقۡتٗاۖ وَلَا يَزِيدُ ٱلۡكَٰفِرِينَ كُفۡرُهُمۡ إِلَّا
خَسَارٗا ٣٩

الله تعالی هغه ذات دی چې تاسو یې په ځمکه کې د پخوانیو( امتونو) د ځایناستو په حیث وټاکلی، نو څوک چې کافر شی، کفر یې پخپل زیان دی، او کافرانو ته یې کفر، د رب په حضور کې د قهر او دښمنۍ نه غیر، نور څه نه لری، او کافرانو ته یې کفر له زیان نه غیر بله ګټه نه لری.

قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ شُرَكَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُواْ مِنَ
ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ لَهُمۡ شِرۡكٞ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ أَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ كِتَٰبٗا فَهُمۡ عَلَىٰ بَيِّنَتٖ مِّنۡهُۚ
بَلۡ إِن يَعِدُ ٱلظَّٰلِمُونَ بَعۡضُهُم بَعۡضًا إِلَّا غُرُورًا ٤٠

( ای پیغمبره! کافرانو او مشرکانو ته) ووایه: د خپلو باطلو خدایانو په باب چې تاسو یې د الله تعالی په مقابل کې عبادت کوئ، ماته معلومات راکړئ چې هغوی په ځمکه کې کوم شیان پیدا کړی، او یا له الله تعالی سره د آسمانونو په پیدایښت کې کومه برخه لری؟ یا مونږ هغوی ته کوم کتاب ورکړی چې د هغه په اساس( د خپل شرک د حقانیت لپاره) څرګند دلیل وړاندې کړی؟( نه داسې نه ده) بلکه دا ظالمان صرف یو بل په دروغجنو وعدو تیرباسی.

۞ إِنَّ ٱللَّهَ يُمۡسِكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ أَن تَزُولَاۚ وَلَئِن زَالَتَآ إِنۡ
أَمۡسَكَهُمَا مِنۡ أَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورٗا ٤١

بيشکه چې الله تعالی آسمانونه او ځمکه ( او ټولې لويې او عظيمې کرې په داسې نظم او ترتيب سره ساتی چې يوه يې هم( له خپلو خپلو محورونو او مراکزو څخه) بې ځايه کيدی نشی او که له خپلو مقامونو او نظامونو څخه بل خوا وخوځی او بې ځايه شی،نو له الله تعالی نه غير يې هيڅوک بيرته په ځای کولی نشی، يقيناً چې الله تعالی د زيات زغم او تحمل لرونکی او بښونکی ذات دی( چې هم د خپلو کافرو او منکرو بندګانو په تعذيبولو کې بيړه او عجله نه کوی او هم د هستی نظام نه ګډوډوی او هم خپلو رجوع کوونکو او توبه کوونکو بندګانو ته د تيرو اعمالو بښنه کوی).

وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَـٰنِهِمْ لَئِن جَآءَهُمْ نَذِيرٌ لَّيَكُونُنَّ أَهْدَىٰ مِنْ إِحْدَى ٱلْأُمَمِ ۖ فَلَمَّا جَآءَهُمْ نَذِيرٌ مَّا زَادَهُمْ إِلَّا نُفُورًا ﴿٤٢﴾

او( مشرکانو) په الله تعالی سخت سوګندونه يادول چې که تنبيه کوونکی (پيغمبر) ورته راشی، نو دوی به له ټولو امتونو نه زيات هدايت موندونکی وی، خو کله چې تنبيه کوونکی( پيغمبر) ورته راغی،( له دعوت سره يې) د مشرکانو نفرت او کراهت نور هم زيات شو .

ٱسْتِكْبَارًا فِى ٱلْأَرْضِ وَمَكْرَ ٱلسَّيِّئِ ۚ وَلَا يَحِيقُ ٱلْمَكْرُ ٱلسَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِۦ ۚ فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ ٱلْأَوَّلِينَ ۚ فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَبْدِيلًا ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَحْوِيلًا ﴿٤٣﴾

دغه نفرت او انکار، په ځمکه کې د دوی د تکبر او سرکشۍ او ناوړه حيلو او چلوټو له امله وه، چې ټولې بيرته د دوی د خپل ځان بلا شوې، نو آيا دوی هغې کړنلارې ته سترګې په لاره دی چې د پخوانيو متکبرو او سرکشو امتونو د تباهۍ لپاره تطبيق شوې وه، ته به هيڅکله هم( د مکذبينو د هلاکت په باب) د الله تعالی په سنت او کړنلاره کې کومه تبديلی ونه وينې او نه به( هغوی ته د عذاب په فيصله کې) کوم تغير او تعديل راشی.

أَوَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَكَانُوٓا۟ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعْجِزَهُۥ مِن شَىْءٍ فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا ﴿٤٤﴾

**آيا دوی په ځمکه کې نه ګرځی ترڅو ووينی چې پخوانی  خلک چه له دوی نه ډير زيات پياوړی وو، له څه ډول ناوړه عاقبت سره مخامخ شوی او په آسمانونو او ځمکه کې هيڅ قوت الله تعالی ته ماتې نشی ورکولی( او د قدرت له ساحې نه يې وتلی نشی) ځکه هغه په ټولو چارو پوه او د کامل قدرت لرونکی ذات دی.**

وَلَوۡ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِمَا كَسَبُواْ مَا تَرَكَ عَلَىٰ
ظَهۡرِهَا مِن دَآبَّةٖ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗىۖ فَإِذَا
جَآءَ أَجَلُهُمۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِعِبَادِهِۦ بَصِيرَۢا ٤٥

**که الله تعالی،خلک د ګناهونو د ارتکاب له امله (سملاسی)مجازات کړی د ځمکې په مخ به هيڅ خوزنده پاتې نشی، خو تر ټاکلی وخته ورته مهلت ورکوی او چې کله يې نيټه راورسی نو الله تعالی د خپلو بندګانو په ټولو کړو وړو ډير ښه خبر دی( او د جرم سره سم به سزا ورکړی).**

**«تمت سورة فاطر بفضل الله رب العالمين»**

**==================**